خبر اوسئ چې دا دنيا او څه چې په کې دي لعنتي دي، پرته د الله تعالى له ياد (ذکر) او هغه څه څخه چې ټړاو ورسره لري، او عالم يا زده کونکى

له ابو هريره رضى الله عنه څخه روايت دى چې ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي چې ويل يې: " خبر اوسئ چې دا دنيا او څه چې په کې دي لعنتي دي، پرته د الله تعالى له ياد (ذکر) او هغه څه څخه چې ټړاو ورسره لري، او عالم يا زده کونکى".

[حسن] [الترمذي او ابن ماجه روايت کړى دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي چې دنيا او هر څه چې په کې دي د الله تعالى له خوا داسې يو څه ګڼل شوي چې کركه ترې شوې، غندل شوي، پرېښودل شوي او لرې اېسته شوي ګڼل شوي ده، ټول هغه څه لرې پرېښودل شوي چې پکې دي او هېڅ ستاينه يې نه کېږي، پرته د الله تعالى له ياد او هغه څه څخه چې ورته دي او الله تعالى يې خوښ ګڼي، او په شرعي علم پوه چې نورو ته يې ورزده کوي او يا يې پخپله زده کوي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3788